AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۱/۰۱/۲۷

# د خاطرو ډیوه

نور زما د تصور په تل کې ستا د خاطرو د ډیوې رڼا مخ په تتیدو ده،

اوس ستا د مخ تصویر څرنګه چې به پخوا هره لمحه هره شېبه زما د ذهن په آسمانونو کې ځلیده،
اوس زما د خیالونو په ورشو کې ستا انځور نه ښکاری،

داسي ښکاری چې نور د تل لپاره زما د ذهن او زړه له دنیا څخه ته وځې،

په حقیقت کې د زمانی سړیا او ناخوالو زما په ذهن کې ستا د تصویر مخی ته پرده غوړولی ده،

اوس په خوبونو او خیالونوکي هم نه راځې،

ستا د ښکلي مخ رڼا اوس زما د تصور په دیوالونو رڼا نه غورځوی،

څومره چې د خیال غیږه پراخوم او لیری ـ لیری واټنو ته نظر زغلوم، ستا تصویر نه وینم،

ډیر کلونه د مخه به شپه او ورځ زما په تصور کې ګرځیدې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ